# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



**کره کتونکی : ډاکټر رحمت ربي زيرکيار، خپلواک څېړونکی، امريکا**


September 4, 2009

## د بوش د محا کمې قانوني مهند سي : يوه کره کتنه

ځلور کلونه وړاندې په ۲۰۰۴ زېيز کال کې د امريکې يو نامتو څېړنيز ژورناليست سيمور هيرش خپل اتم کتاب راووېست : « د امَر پاټکي : له ۹/۱۱ نه ابوغريب ته سړک ، هارپر کولينز ۲۰۰۴
Seymour Hersh, The Chain of Command : The Road from 9/11 to Abu Ghrib. New York: Harper Collins, 2004
ما ( زيرکيار ) د وه نيم کلونه وړاندې ليکلي وو : زه چې ورته کسم سيمور هيرش د کوماند و يا امر په پاټکو کې غلی شان هڅه کوي چې که له د وهمې نړۍ والې جګړې نه وروسته په جرمني کې د نيورمبرګ مُحکمې (۹۴۵) ته د خلکو پام راوګر ځوي-هغې مُحکمې ته چې د کوماند و د امر د مسؤليت اصل يې راوويست
Principle of Command responsibility
بيا هم څوک ويلی شي چې تاريخ به ( په امريکا کې ) څنګه تصفيه وکړي . انتوني ليويس په « دي نيشن» ( ملت ) نومې مجله کې [ ۲٦ د سمبر ۲۰۰۵] د سکاټ هورټن [ د نيويارک د قانون پوهانو په ټولنه کې د بين المللي قوانينو د کمېټې مشر ] له خولې د اسې ليکي چې « د بوش يو شمېر غټ ماموران په ډېر احتمال سره د راتلونکي نسل پينوشيتان کېد لی شي » - ولولئ : زيرکيار ، د نوي سياست الجبره : د امريکې د امپراتورۍ لپاره فکرونه ، ستراتيجۍ، پلانونه ، عمليات، ډنډ ورې او غولونې . خپرند وې : د پښتني کولتور د ودې او پراختيا ټولنه ، جرمني . چاپ ځای : د انش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰٦، مخونه ۲۳ تر ۲۴
" A number of key Bush officials are more likely to be the Pinochets [Chilean brutal dictaror Augusto Pinochet : 1915-2006] of the next generation."
پنځه د ېرش کلونه وړاندې په ۱۹۷۳زېيز کې ، جنرال اګوستو پينوشيت په چيلې کې د سلواد ور آليندې حکومت د کود تا له لارې رانسکور کړ. په پينوشيت پسې په ۲۰۰۴ کې، د قتل او تښتونې د عوې راپورته شوې [ نوموړی په ۹۱ کلنی کې، د ۲۰۰٦ په د سمبر کې مړ شو .] د پينوشيت د کود تا په د ېرشمه کليزه، په ۲۰۰۳ کې يو مهم، په شواهد و کوټلی کتاب راووت . دې کتاب ته د امريکې د يوه نامتو ستراتجيست او د کود تا په مهال د بهرنيو چارو د وزير ډاکټر هينري کيسينجر او د نورو هغو اشخاصو وچولي تروه شول چې په چيلې کې يې د ولسواکۍ په ړنګولو او د جنرال پينوشيت په کود تا کې د امريکې له رول نه سترګې پټولې : پيټر کورنبلوه، پينوشيت ډېرۍ [ د وسيه، فايل ] : د فجايعو او مسؤليت يوه علني شوې ډېرۍ، نيو پريس، ۲۰۰۴ ، په ٦۰۸ مخونو کې

Peter Kornbluh, Pinochet File : A Declassified Dossier on Atrocity and Accountability. New Press, 2004 (Paperback), 608 pages

## د قانونپوه بوګليوسي کتاب

د رې اويا کلن وينسينت بوګليوسي د امريکې يو مفکر او وتلی څارنوال ( پراسيکيوټر : مدعی العموم ) دی اود واقعی جنايتونو د قضيو يو نامتو ليکوال دی . دغه متقاعد حقوقپوه ليکوال په ولسمشر جورج ډ بليو بوش( ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۹) پسې راپارېدلی دی او محاکمې ته يې راکاږي . بوګليوسي په خپل تازه چاپ شوي، کلک چاودونکي،او فکر تخنوونکي کتاب کې د بوش د محاکمې معماري انځور کړې ده : بوګليو سي،د قتل له امله د جورج ډ بليو بوش تعقيب .کمبريج، مسيچيو سيټ،وانګارد پريس/ پرسيوس بوکز، ۲۰۰۸

Vincent Bugliosi, The Prosecution of George W. Bush for Murder. Cambridge, MA: Vanguard Press/ Perseus Books, 2008, 324 text pages.

حقوقپوه ليکوال نه يواځې په دې کې د کلکو مشکلاتو سره مخامخ شوی و چې د خپل کتاب لپاره خپرند وی ياني ناشر مينده کړی، بلکې وروسته له خپرولو نه يې هم مشکلات په برخه شول . د غه کتاب چې ۳۲۴متنی مخونه لری، درې مياشتې وړاندې د ۲۰۰۸ د می په ۲۷نېټه راوتلی و. خو له وېرې هرچا له د ېنه ډ ډ ه کوله چې په غټو مطبوعا تو کې پرې وغږېږي . وروسته له ډېرو ټيلو او منډ و ترړو، ليکوال په دې بريالی شو چې د مرکو له لارې خلک په خپل کتاب خبر کړي . پخپله له ده نه واورئ

“Liberals as well as conservatives, totally blocked me out .”

وروسته له منني، د کتاب لومړئ پړکی ( فصل ) داسې پېل شوی دی : « بې له تعصبه خلک به موافق وي چې په خپل کتاب کې مې هغه حقوقی معماری انځور کړې ده چې د بوش د تعقيب صلاحيت لري، او له د ېنه زيات مهم زه د بوش په مقابل کې هغسې لاسوندونه ( شواهد ) وړاندې کوم چې ( له ټول معقول شک نه بهر) ثابتوي چې هغه [ بوش ] د وژنې مقصر دی .» ۴ مخ

“...proves, beyond all reasonable doubt, that he is guilty of murder.” (page 4)

## د امريکې په تاريخ کې خورا ستر جنايت

حقوقپوه بوګليوسي په دې باور دی چې جورج ډبليو بوش د امريکې په تاريخ کې « خورا ستر جنايت » کړی دی، په دې چې عمداَ او قصداَ يې « د غلطو پلمو او ادعا ګانو » [اَنډر فالس پريټينسيس ] له لارې خپل جنګ په عراق ورتپلی دی . په د غه جنګ کې چې د بوش جنګ دی ( نه د امريکې او نه د امريکې د ولس ) له سل زره نه زيات انسانانو د وحشتناک او ترهوونکی جنګ خوند څکلی دی . د بوش جنګ چې په «د روغو» (لای) ولاړ و هغسې « فاجعوی عواقب » رامنځته کړل چې اندازه يې د ۹۱۱ له بخولې نه ډېره ډېره غټه وه .نو په دې اکله « بايد موږ د يو ملت په څېر څه وکړو؟» پام وړ داده چې لا تر اوسه ن يواځې د اچې د بوش د سلوک هېڅ ډول تحقيق نه دی شوی ، بلکې ددغه ډول تحقيق لپاره کوم «جدی وړانديز » ( سيريَس پروپوزَل) هم نه دی شوی(۲۹مخ). حقوقپوه ليکوال د ولسمشر جورج ډ بليو بوش د روغ په لاند يني ډ ول ثابتوي

د زيبز کال۲۰۰۳ د مارچ په ۱۹ نېټه بوش په عراق وسله وال بريد وکړ . له د ېنه څه د پاسه پنځه نيمې مياشتې وړاندې، د ۲۰۰۲ د اکتوبر په لومړئ نېټه د امريکې د ملي استخباراتو اټکل ( نيشنَل اِينتيليجَنس اِيستيميټ ) په دې سرليک معرفی شوی و: « د وګړيزې ويجاړتيا د وسلو لپاره د عراق جاري پروګرامونه«(ايراکز کنټينوينګ پروګرامز فور ويپنز آف ماس ډ يسټرکشن). د دموکرات ګوند سناتور باب ګراهم هغه مهال په مشرانو جرګه کې د استخباراتي کميټې مشر و .هغه ويلي وو چې : « هو، له سلو نه زيات دموکراتانو» ولسمشر بوش ته اجازه ورکړه چې امريکه دې د عراق جنګ ته ورټيله کړي .دهغوی اکثريت د جمهوری غوښتونکو همکارانو په څير په دې «مشروع باور » (ليجيټيميټ بِليف ) ولاړ و چې ولسمشر او د هغه ادارې به ورته د صدام حسين په اکله رښتيا ويلی وي چه هغه يو« مخ په زياتيدونک خطر»( ګاد رينګ مينيس) دی، ۱۰۹مخ . په عراق باندې له وسله وال بريد نه نږدې درې مياشتې وروسته د ۲۰۰۳ په جولای کې او بيا د ۲۰۰۴ په اپريل کې، قسمتاَ د ملی اسخباراتو د اټکل راپور «علني» (ډيکلاسيفايد)شو-دسپينوپاڼو په نوم(وايټ پيپر). د بېلګې په ډول په دغه علني راپور(سپينو پاڼو) کې راغلی وو : «زموږ په قضاوت د ملګرو ملتونو د پرېکړو په خلاف عراق د وګړيزې وېجاړتيا د وسلو په پروګرامونو کې لګيا دی .» خو په هغو سپينو پاڼو کې چې ولسمشر بوش د امريکې کانګرس او عوامو ته وښودلې، هلته « زموږ په قضاوت » ټکي ( وي

جَج  د يټ ) حذف شوي وو . د کتاب ليکوال وايي چي « زموږ په قضاوت » الفاظ فقط د امريکي د مرکزي استخباراتو يو نظر ښکاره کوي. په دې ډول د ولسمشر بوش له خوا په وړاندي شوو سپينو پاڼو کي په مطلق شکل راغلي وو چي : « عراق د ملګرو ملتونو د پرېکړو په خلاف د وګړيزې وېجاړتيا د وسلو په پوګرامونووکي لګيا دی «

"Iraq has continued its weapons of mass destruction programs."

په دې ډول بوش او د هغه « مطيعو» مرکزي استخباراتو يو نظر په « واقعيت » واړاوه ( ۱۱۲مخ(

"opinion...turned into fact."(p. 112)

## د ملي استخباراتو اټکل

د ملي استخباراتو  داټکل  په مخفي ياني کلاسيفيايد نسخه کي راغلي دي چي: «موږ تخمينوو  ( اَسيس ) چي بغداد د ... مجدد توليد پيل کړی دی .» خو کانګرس او د امريکي عوامو ته  د ولسمشر بوش په سپينو پاڼو کي د  « موږ تخمينوو چي » ( وي آسيس دَ يټ ) الفاظ  ايسته شوي وو ،او په دې ډول جمله داسي لوستل کېږي

"Baghdad has began renewed production of mustard, sarin, GF... and VX."

د ملي استخباراتو د اټکل په مخفي يا  سري  راپور کي راغلي دي چي  «که څه هم موږ  د عراق د کمياوي وسلو د انبار په اکله لږ خاص معلومات لرو ،ښايي صدام لږ تر لږه سل متريک ټنه او شايد (پاسيبلي)د پنځه سوه متريک ټنو پوري کمياوي وسلي انبار کړې دي-غېته برخه يي په تېر کال کي .»  د «ښايي»  او  « شايد » [پاسيبلي/ پرابيبلي ]  په ترکيب جمله په څرګنده ژبه دا مانا لري چي استخبارات « معلومات نلري» .خود بوش په علني سپينو پاڼو کي  دا برخه ( « که څه هم موږ د عراق د  کمياوي  وسلو  د انبار په اکله  لږ خاص   -ليټِل سپيسيفيک- معلومات لرو» ) ايسته شوې ده، او پر ځای  يي په ساده ډ ول يواځي د اسي ليکل  شوي دي چي «صدام شايد لږ تر لږه....» ،۱۱۲مخ

"Saddam probalbly has stocked at least...." (p. 112).

د ملي استخباراتو د اټکل مخفي نسخه وايي : «زموږ په نظر» يا « زموږپه قضاوت  عراق ځيني    وژونکي  او کمزوری  کوونکي  بيولوجيک  وسلي لری او په دې قاد ر دی   چي د انتراکس   په شمول د د  غو  عاملونو (ايجنتس) يوه تنوع توليد او په وسلو کي استعمال کړي،لکه د توغولو لپاره د بمونو، توغند يو،هوايي تيتوونکو،او مخفي مامورانو (جاسوسانو) په واسطه.»  د حقوقپوه ليکوال په وينا،د سپيني ماڼی په علني سپينو پاڼو کي د سپيني ماڼی  « محترمو او وجداني او اخلاقي اوهېوادد وستو او ډ يرد يني خلکو» له ذ کر شوې جملي نه لومړئ برخه ياني [وي جَج دَ يټ= زموږ په قضاوت] لرې کړې وه، او پاتې جمله يې داسي پيل کړې وه

"Iraq has some lethal and incapacitating BW(biological weapons) and is capable of producing and weaponizing....."

سر بېره پر دې، دغو عاليجنا بانو يو بله  لاسوهنه هم کړې وه او  هغه داچي ځيني الفاظ يې هم  پکي ورزيات کړي وو، په دې  ډ ول

"including potentially against the U.S. homeland." (p. 113)

د ملي استخباراتو د اټکل په پټه ياني سري نسخه کي ويل شوي وو چي عراق د بي الوتانه (اټوميټيک) هوايي وسيلو ( يُو أئ ويز ) په پرمختيا کي لګيا و .( يُو أئ ويز: اَنميند اَريَل ويهيکلز ). ذکر شوی مخفي راپور وايي چي دغه اَټوميټيک هوايي وسيلي « شايد په دې نيت وي چي بيولوجيک جنګی عاملونه وتوغوي». خو د سپيني ماڼی په علني سپينو پاڼو (وايټ پيپَر ) کي يو لمنليک ( فُټ نوټ ) خوړل شوی و چي په پټه نسخه کي شامل و .په دغه ايسته شوی (حذف شوی) لمنليک کي راغلي وو چي د استخباراتو، څارني، او اکتشاف لپاره د امريکي د هوايي قوي مشر (ډايرکټر ) ورسره موافقه نلرله،۱۱۳مخ..د کتاب ليکوال  پوښتنه کوی چي د سپيني ماڼې په علني سپينو پاڼو کي پورتنئ تلل شوې خوړني (حذ فونه ) او لاسوهني ( تحريفونه ) موږ ته څه شی په « ډ ېر، ډ ېر، ډ ېر وضاحت » سره راښئ ؟ حقوقپوه ليکوال خپلي پوښتني ته داسي ځواب ورکوی : دغه تلل شوي خوړني او لاسوهني « بي له ترد يده» [اَنميستيکنلي ]د جورج ډبليو بوش او د هغه  د کړی د  اشخاصو قصد  څرګند وي چي په  د روغو سره   حقيقت  تحريف  کړي او خپل  هدف  وړاندې بوځي. د غه هدف په دې  راڅرخيده  چي د امريکي عوام او کانګرس په دې  قانع کړي  چي په عراق باندې د امريکي بريد د امريکي د د فاع لپاره و او روغ عمل و.

## د سي آيِ أئ مشر ته د دې سازمان د پخوانو ماموانو ليک

حقوقپوه بوګليوسي يو ليک راوړي چې د امريکې د مرکزي استخباراتو شپږ تنو پخوانو مامورانو د د غه سازمان مشر جورج ټينيټ ته هغه مهال استولی و چې د ۲۰۰۷ کال په اپريل کې يې خپلې خاطرې چاپ کړې وې، په دې سر ليک :« د حملې په مرکز کې، اپريل ۲۰۰۷» ( اَټ دي سينټر آف سټورم ، اپريل ۲۰۰۷(. د سي آيِ أئ ذکر شوو شپږ تنو پخوانو مامورانو ټينيټ ته داسې ليکلي وو : « تاسې د عراق د جنګ قضيه جوړه کړه . تاسې د سي آيِ أئ د مامورانو سره خيانت وکړ . هغوې چې کوم استخبارات راغونډکړی وو، هلته په څرګند ډول راغلي وو چې صدام ګړندی ( قريب الوقوع ) خطر [ اِيمينينت تريټ ] نه و ايجاد کړی . تاسې د هغو تحليلګرانو سره خيانت وکړ چې د [ مرستيال ولسمشر د يک ] چيني او د [ دفاع وزير دانالد ] رمسفيلډ د فشار په مقابل کې يې مقاومت کاوه ...که څه هم سي آيِ أئ د ۲۰۰۲ د سپتمبر په وروستيو کې اطلاع لرله [لَرنډ ]...چې عراق د اوساما بن لاد ن سره نه تير يا اوسنئ تماس درلود او د عراق مشر بن لادن ته د غليم په سترګه کتل...تاسې بيا هم د کال ۲۰۰۳په فبروری کې کانګرس ته لاړئ او شهاد ت مو ورکړ چې عراق واقعاً د القاعدې سره اړيکې لرلې . د سي آيِ أئ د مشر په حيث ستاسې د وره د يوې د اسې نړی په خلقو لو کې مرستند وې وه چې ډ ېره خطرناکه [مور ډ ينجرَس ] ده . دا ډېره د تاسف وړ ده چې تاسې لا تراوسه داسې معلوميږئ چې د هغې سترې اندازې وژنې او وينې تويونې مناسب د رک نلرئ چې ستاسې په واسطه اسانې شوې دي .» ۱۱۶مخ

“...enormous amount of death and carnage you have facilitated.” (p. 116)

ريچارد کلارک د کال ۲۰۰۳ پورې په سپينه ماڼۍ کې د ترهه ګرۍ پرضد چارو کې غټ چارپوه و . کلا رک وايي چې د ۹۱۱ له بخولې نه وروسته، ولسمشر بوش « يوې کوټې ته د يو جوړه نورو کسانو سره رابنکلم، د ړه يې وترله» او ويې ويل چې کلا رک بايد مينده کړي چې « آيا عراق دغسې کړي وي.» کلا ر ک « بې له شکه » داسې پوه شو چې ولسمشر بوش « زما نه غواړي چې بېرته د يوه راپور سره راشم»-هغه راپور چې د ۹۱۱ په بخوله کې د صدا م حسين لاس وښئ ،۱۱۷تر ۱۱۸مخونه ولولئ

“ a report that said Iraq did this.” (pp. 117-118)

## د محاکمې قضايي حوزه او د توطًې عناصر

حقوقپوه بوګليوسي د محاکمې په قضايی حوزه داسې رڼا اچوي : د د غې محاکمې لپاره تر ټولو غوره صلاحيتي حوزه واشنګټن ډي سي ( د امريکې پايتخت) دی چې تعقيبوونکي به يې پخپله د امريکې د متحدو ايالتونو لوي څارنوال (آتورني جنرَل) وی .په بوش باندې د د وه جنايتونو تور لګېد لی دی : (۱) د وژنې يانې قتل توطًه جوړول، او (۲) پخپله وژنه

“conspiracy to commit murder and murder [itself].”

ددغو جنايتونو د محاکمې لپاره قانونی او جزايی مرجع په دې ډ ول بنود ل شوې ده : د توطًې لپاره د اتلسم فد رال کوډ ۱۱۱۷ پراګراف، او پخپله د وژنې يانې قتل لپاره د همد غه کوډ ۱۱۱۱ پراګراف . د قتل جزا عمري بند يخانه يا پخپله اعدام (ډ يت ) دی . خو د قتل د توطًې د جزا جګ حد عمري بند يخانه ده (۱۵۶ مخ). پنځه د يرش کلونه وړاندې په م۱۹۷۳ کال کې جنرال پينوشيت په چيلی کې د آليندې حکومت رانسکور کړ .يو د يرش کلونه وروسته په د سمبر ۲۰۰۴ کې د ۸۹ کلن جنرال پينوشيت په مقابل کې چې چا به ګوتې نه شوای ورنږدې کولای، د قتل او تښتونې ( مَرډ ر اينډ کيډ ناپينګ ) دعوې را پورته شوې ( ۱۵۴ مخ )
حقوقپوه بوګليوسي وايی چې نه يواځې فدرالی لوي څارنوال د بوش د څارنې [پراسيکيوشن= تعقيب ] صلاحيت لری، بلکې له ۹۳ فد رالی سيمو نه هر سيمه ييز څارنوال [فيد رال ډيسټريکټ اتورني]هم کولی شي چې ولسمشر بوش د تعقيب لاندې ونيسي . دغه شان له پنځوس ايالتونو نه هر ايالتی لوی څارنوال کولی شی چې بوش د څارنې لاندې ونيسی . سر بيره پر دې، په پنځوس ايالتونو کې د هرې هغې ولسوالۍ [کَونټي ] څارنوال هم بوش د تعقيب لاندې نيولی شي چې په عراق کې د بوش په جنګ کې يې عسکرو ژوند له لاسه ورکړی وي

بوش د خپل جنګ لپاره د امريکې عسکر ولېږل، خو پخپله يې په سپينه ماڼۍ کې د خوند او جلال ژوند تېراوه اوهلته يې د خپل مرستيال د يک چيني او نورو سره پرېږه ( توطًه، د سيسه ) جوړوله . دلته پوښتنه د ا ده چې د توطًې په فيد رالي جنايت کې کوم عنصر حتمي دی ؟ يانې په « کورپوس د يليکټي» ( د تخطي د قوانينو په مجموعه ) کې لازمي توکمی کوم د ی ؟ . د توطًې هدف ته د رسېدلو لپاره بايد « لږ تر لږه يو څرګند عمل » [ اُورت اکشن ] د توطًې د يوه يا څو غړو له خوا اجرا شوی وي . د بېلګې په ډ ول که پيسه ګل او شډ ل

يوه بانک د وهلو لپاره توطًه جوړوي، « د تېښتي د موټر لپاره تېل رانيول » بسنه کوي چې څرگند عمل ورته وويل شي . بوش او يارانو يې خلکو (د امريکې د پنځوس ايالتونو ولس ) ته د روغ وويل او د واقعيت په غلط تصوير ( ميس ريپريزنټيشن ) يې هغوی په دې قانع کړل چې د بوش او د هغه د يارانو جنگ د امريکې د د فاع په پلمه مشروعيت لري . البته دلته زيات د روغ او د واقعيت زيت غلط تصوير ( علني يا څرگند اعمال ) د هيواد په پايتخت واشنگټن ډي سي کی د مطبوعاتو له امله وړاندې شوي وو .خو بيا هم د غه څرگند عملونه ( د روغ او د واقعيت غلط تصوير ) ډ ير ځلې هممهال په ټولو ايالتونو کې د امريکايانو کورونو ته ورننوتلي وو . د هر ايالت لوي څارنوال د دې قضايي صلاحيت لري چې بوش د قتل د توطًې له امله او پخپله د قتل له امله تعقيب کړي ، ۱٥٦ مخ

توطًه په د رې ستنو ولاړه وي : په گډ هدف ، د يو بل په اتکا ( ميوچوَل ډ يپنډ نس، يانې په يو بل حسابول ) ، او په څرگند عمل . حقوقپوه ليکوال کاږي چې په د روغو ولاړ جنگ کې متقابله مرسته او په يوبل اتکا حتمي وی، يانې غلط جنگ ( هدف ) توطًې ته اړ و .ليکوال پوښتنه کوي چې په توطًه کې څوک د بوش سره شريک وو ؟ ليکوال مرستيال ولسمشر د يک چيني او د ملی امنيت د جرگې مشاورې کاندي رايس ته گوته نيسي . دی د دفاع د وزير دانالډ رمسفيلډ د تقصير په اکله په کافي کچه ډ اډ ه نه دی، خو کله چې يې څارنوال محکمې ته د احضار حُکم وکړي او ددغه حُکم اسناد، د اظهاراتو لاسته راوړل، او منصفه هيًت( گرينډ جوري )ته د مهمو ا شخاصو شهاد تونه او گواهۍ وکتل شي ، په توطًه کې د رمسفيلډ د گډون کشف به د ومره مشکل کار نه وي : [ ... ديټ شوډ نا ټ بي هارډ ټو ډ يټرمين ] .ليکوال وايی چې د بوش غټ مشاور کارل رُو هم دغسې د ر واخلئ . د ولسمشر بوش په خپله وينا، کارل رُو د هغه « مهندس» و : « په احتمال سره » کارل رُو به په توطًه کې کلک نښتی وي [ډ يپلي اِمپليکيټيډ ] . حقوقپوه بوگليوسي که څه هم د بهرنيو چارو د وزير کولين پاوَل په اکله نه پوهېږي ، داسې « احساسوي » چې نوموړی به « بې گناه » وي . د پاوَل «يواځينئ گناه » د نوموړي په «ضعف » راڅرخي . ليکوال په دې عقيده دئ چې منصفه هيًت به ولسمشر، مرستيال ولسمشر د يک چيني، او د ملی امنيت د جرگې مشاوره کاندي رايس « محکوم» يانې ( کَنويکت ) کړي-په لومړئ د رجه قتل چې په قصد او پلان ولاړ وي . په ټولو ايالتونو کې منصفه هيًت [ جوري ] پرېکړه کوي چې متهم ته څه ډ ول جزا وټاکی : د عفوې په امکان سره د ټول عمر بندي ، بې له عفوې د ټول عمر بندي، يا اعد ام [وژنه]-۱٥۷ تر ۱٥۸ مخونه

حقوقپوه ليکوال يو بل مهم ټکي ته هم گوته نيولې ده : ولسمشر بوش د ۹۱۱ له بخولې [ ۱۱سپټمبر ۲۰۰۱ ]نه نږدې يو کال وروسته ، د کال ۲۰۰۲ د اکتوبر په اوومه نېټه د اُهايو په ايالت کې په سينسيناتي کې د موزيم له مرکز نه وينا وکړه . هلته يې خطر د اسې انځور کړ چې گوندې گړندی يانې قريب الوقوع به وي-په دې الفاظو چې د غه خطر «په هره ټاکلې ورځ » ]آن اِ يني گيوين ډئ ] پيښيد ونکی دی . د غه ويناپه دې راچاپېړه وه چې صد ام حسين امريکې ته يو غټ خطر و .د بوش له دغې وينا نه يوه ورځ وروسته (اکتوب ۸، ۲۰۰۲) د مشرانو جرگې د استخباراتی کمېټې د فشار له امله ، د سي آې أئ مشر جورج ټينيټ يو ليک علنی ( ډيکلاسيفايډ ، غير مخفي ) کړ او د مشرانو د جرگې د استخباراتی کميټې مشر باب گراهَم ته يې واستاوه .د گراهَم له خولې، هغه ته دغه ليک د ۲۰۰۲ د اکتوبر په اوومه د مازيگر په څلور بجو او ۲۷ د قيقو ورفکس شوی و . د سي آې أئ مشر ټينيټ چې ولسمشر بوش ته مسؤل و ، حتماَ به يې ذ کر شوی علنی ليک خپل امر (بوش) ته هم مخکې له مخکې لېږلی و ي . د سي آې أئ « په لمريز نظام [ سولَر سيستم]» کې ولسمشر لمر دی » ،او پخپله سي آې أئ او د هغې مشر « يواځې د ولسمشر په خد مت کې وي.» ولولئ
Thomas Powers,The Man Who Kept the Secrets: Richard Helms an d the CIA, quoted in Bugleosi, p.106

د غه علنی ليک د ۲۰۰۲ د اکتوبر په اتمه د ولسی جرگې او د مشرانو جرگې د استخباراتی کميټو گډې غونډې ته واورول شو . په د غه ليک کې که څه هم داسې څه وو چې د صد ام له خوا امريکې ته په گړندی خطر دلالت وکړی، هلته داسې هم راغلی وو چې که چېرې امريکه لومړی په صدام بريد وکړی هغه به د ېته اړشي چې د ځان د د فاع لپاره کمياوي او بيولوجيک وسلې وکاروي . يانې د غه ډ ول وسلې به په خپل د فاعي حالت کې وکاروي . د د غه ليک لاند ېني متن ته پام وکړئ

“Baghdad for now appears to be drawing a line short of conducting terrorist attacks with coventional or CBW (chemical or biological weapons) against the United States. Should Hussein conclude that a U.S.

lead attack [against him] could no longer be deterred, he probably would be much less constrained in adopting terrorist actions,” the above letter says. (p. 105)

په سینسیناتی کې د ولسمشر بوش له وینا نه څلور ورځې وروسته ( ۱۱ اکتوبر ۲۰۰۲، ) د امریکې کانګرس بوش ته اجازه ورکړه چې د عراق په مقابل کې زور وکاروي . لیکوال کار چې پخپله د ده «انګېزه» (موټیویشن) سیاسی جنبه نلري . یانې که یو دموکرات ولسمشر د ولسمشر بوش په شان عمل کړای وای، لیکوال به یې په ضد «عین ، ورته» ( سَیم، آید ینتیکَل) لیکنه راویستلای وای . لیکوال په « غټو لیبرال ډ یوو» (لیډینګ لیبرال لایټس ) هم ټونګه وهلې ده ! د بېلګې په ډول، د موکرات سیناتو اېډ وارډ کینیډي په ولسمشر بوش پړه اچوي چې کانګرس یې د « تقلب » ( ډ یسټورشن) له لارې تېروېست چې د عراق د جنګ لپاره اجازه ورکړي . دلته لیکوال داسې پوښتنه کوي : که ولسمشر بوش د غسې کوي لکه سیناتور کینیډي یې چې تشریحوي، نو بیا څه کول په کار دي ؟ ( د ېن وَټ؟) . حقوقپوه لیکوال بوګلیوسي وایي چې وګورئ، ولسمشر بیل کلینټن په دې متهم شو او د تحقیق لاندې ونیول شو چې د ادعا له مخې یې هڅه کړې وه چې په توافقي، رضایتي جنسي رابطه څپونې واچوي .لیکوال زیاتوي چې« تاسې د بوش په اکله د څه سپارښتنه کوئ چې له سلو زرو نه د زیاتو وژنو مسؤل دی؟»، ۸۳ مخ

جورج ډ بلیو بوش د ګوَرنر په حیث د امریکې په تاریخ کې په ټولو ګوَرنرانو کې « د اعدام خورا جګه اندازه»( دي هایست اِکسیکیوشن رَیټ ) کارولې وه-۸۵ مخ . لیکوال «ډ پر ډ اډ ه» دی چې په کتاب کې د ښودل شوو لاسوند ونو ( شواهد و) په مټ یو « وارد» څارنوال ( کامپیټینټ پراسیکیوټر ) ولسمشر بوش د قتل په جرم محکومولی شي ( ۸٦ مخ) د کتاب لیکوال یوې بلې پوښتنې ته هم ځواب وایي : ښایي یو څوک پوښتنه وکړي چې شخصاً خو ولسمشر بوش هیڅوک نه دي وژلي ، نو څنګه به هغه د قتل په جرم تعقیب اومحکوم شي؟ هو، سمه ده چې وژ نې په عراق کې وشوې . خو د تقصیر یا جرم لپاره حتمي نه ده چې په جنایت تورن شوی شخص ( متهم، مد عي علیه) دې پخپله شخصاً ( فیزیکلي = جسماً، واقعاً ) د قتل مرتکب شوی وي . لیکوال یوې جنایي قضیې ته ګوته نیسي چې پخپله لیکوال پکې څارنوال و . پخپله ده یو متهم (یو سړی چې چارلز منسون نومیده ) په اووه قتلونو محکوم کړ، که څه هم متهم (منسون) نه پخپله په هېڅ یو قتل کې ګډون د رلود ، او نه هغه مهال حاضر و . د متهم (منسون) د محکومیت لپاره څارنوال (د کتاب لیکونکي بوګلیوسي) په توطّه کې د نیابتي یا وکالتي مسؤلیت اصل ته مراجعه وکړه چې انګریزي مطلب یې په لاندې ډ ول دی

vicarious liability rule of conspiracy

ددغه اصل له مخې د یوې توطًې یا د سیسې هر غړی جنایی مسولیت لری په ټولو هغو جنایتونو کې چې د هغوی توطًه ګرو شریکانو ( کوکانسپیراټورز) یا د توطًې د شریکانو بې ګناه عاملانو او دلالانو( اِینوسینټ اِیجنټس ) د توطًې د هدف د پوره کولو لپاره اجرا کړي وي .لیکوال وایی چې جورج ډ بلیو بوش په غلطو ادعاګانو د امریکې ملت د عراق په جنګ اخته کړ .په د غه د سیسه یا توطًه کې بوش ځانله نه و، بلکې د هغه د نږدې کړی ځینو غړو ( د توطًې شریکانو ) پکې ګډ ون لاره

“Necessarily, he conspired with...coconspirators like Dick Cheny and Condolizza Rice.” (pp. 86-87)

حقوقپوه لیکوال وایی چې د سیسه یا توطًه باید هدف ولري . د بوش او د شریکانو د توطًې هدف د او چې په عراق دې برید وشي .که یو څوک وپوښتي چې بوش او د توطًې شریکانو یې شخصاً ( جسماً ) څه د پاسه څلورزره امریکایي عسکر نه دي وژلي ، بلکې عراقي عسکرو او پاڅون والو وژلي دي، نو څنګه به د وکالتي یا نیابتي مسؤلیت د اصل له مخې بوش او د هغه اندیوالان د قتل مجرمان وګڼل شي ؟ ځواب :که د د سیسې شریک یا هرڅوک « قصداً د پیښو یوه لړۍ په خوځښت راولي» ( سیټ اِن موشن أ چین آف ایونټس ) او په دې پوهیږي چې دغه عمل به یې د یوه بې ګناه د ریم شخص باعث شي چې د یوه عمل مرتکب شي، د توطًې شریک ته د د ریم بې ګناه شخص د عمل جنایي مسؤلیت ورپه غاړه کېږي . د لته د ریم بې ګناه شخص یا بې ګناه عامل (اِینوسینت اِیجنټ ) پخپله لومړی د عراق عسکر او ورپسې د عراق پاڅونوالان (اِینسرجنټس) وو، او هغوی چې په خپل هیواد کې د کوم عمل مرتکب شوي وو، دامریکې د عسکرو وژل وو. هغوی د بوش په جنایت (قتل ) کې د بې ګناه عامل یا دلال رول لو بولی و . هغوی د خپل هیواد د د فاع لپاره یرغلګران ( امریکایي عسکر ) ووژل . هغوی ( بې ګناه عامل ) د د غه قتل لپاره لازم جنایي قصد نه لاره . په ساده ژبه ، د غه قتل ( د امریکایي عسکرو وژنه ) په هغوی ورتپل شوی و . په حقوقو کې د باعث کید لو( کاز) ټکی د موجب کېد لو، ایجاد ولو یا رامنځته کولو په مانا کارول کېږي

cause: bring into existence or bring about

په دې ډول، په عراق باندې د بوش یرغل یقیناً د عراقیانو پاځون رامنځته کړ یا یې ایجاد کړ ، او د بوش عمل د دې موجب شو چې عراقیان د امریکې عسکر ووژني-په عین ډول لکه یو سړی چې ټوپک د ډز لپاره ډ کوي، ماشې یې راکاږي او یو څوک پرې وژني . په جنایي حقوقو کې د ریم شخص ( بې گناه عامل یا بې گناه دلال ) د اصلي مجرم یاني د اصلي لوبغاړي «صرف یوه وسیله » گڼل کېږي . که سړی د لیل وړاندې کړي چې بوش په د غه موضوع کې مسؤل نه دی ، د ا به نږدې د هغه توطٔه گر د د لیل معاد ل وي چې د هغه د توطٔې شریک ( کوکانسپیراتور ) هېڅکله قرباني یاني مقتول شخص نه دی وژلی ، بلکې د هغه ټوپک وژلی د ی ، ۸۷ مخ

## اساسي قانون ، کانگرس او د ولسمشر محاکمه

د امریکې په اساسی قانون کې د ولسمشر د محاکمې په اکله څه راغلي دي ؟ لیکوال د وه شرطونو ته گوته نیولې د ه : لومړی دا چې بوش « یواځې » هغه مهال د تعقیب لاندې نیول کېدای شي چې « نور ولسمشر نه وي » [ اَفتر هي اِز نو لانگر پریزید ینت ] ۸۹ مخ . د اساسی قانون له مخې، ولسی جرگه رسماً په اکثریت سره ولسمشر په خیانت، بډ و ،سترو جنایتونو او تخطی گانو متهم کولی شی . د ولسمشر د محاکمې لپاره پخپله مشرانو جرگه په محکمه اوړی، یاني مشرانو جرگه کولی شی چې ولسمشر محاکمه یاني «اِمپیچ» کړی او په د وه پرد رې ( ۲/۳) اکثریت سره یې محکوم ( کنویکټ) کړی-د اساسی قانون لومړئ ماده ، د ریمه برخه، اووم بند . په همد غه بند کې « دي پارټي کَنویکټید » ټکي کارول شوي دي چې په «محکوم شوي شخص» (ولسمشر) را څرخي . محکوم شوی ولسمشر د دې مسؤل دی چې د نورو هغو جنایتونو له کبله قانوني محکمې ته راوستل شي چې د خپلې ولسمشرۍ په پېړ کې یې کړي وو . د اساسي قانون ژبه داسې ده

“ but the party convicted shall nevertheless be liable and subject to indictment, trial, judgment and punishment, according to law.” (Article 1, section 3, clause 7)

وروسته له محکومیت نه ولسمشر نه یواځې د ا چې له خپل مقام نه لرې کېږي ، بلکې کوم فد رالي افتخاري مقام هم ورته ورسپارل کید لی نشي . دوهم شرط دادی چې که د امریکې نوی ولسمشر چې د ۲۰۰۹کال د جنوری په شلمه نیټه به رسماً په کار پیل کوي ، اوسني ولسمشر ( بوش) ته د خپلې رسمي د ورې (جنوری ۲۰۰۱ تر جنوری ۲۰۰۹) ټول جنایتونه عفوه نکړي، بوش د بل هر هیواد وال ( تبعه) په څیرد خپلې د ورې د هر جنایت له امله تعقیب کید لی شي . حقوقپوه بوگلیوسي وایي چې دلته خبره د قتل ده ، څکه خو د تعقیبولو هیڅ قانوني محدود یت او قید ( ستاتوس آف لیمیټیشن ) نشته . ولسمشر ریچارد نیکسن مخکې له دې چې د واټر گیټ د قضیې له کبله په کانگرس کې متهم او محاکمه شي ، څلورد یرش کلونه وړاندې یې په زییز کال ۱۹۷۴ کې استعفا ورکړه ، او د هغه ناستن ولسمشر جرالد فورډ ورته د واټرگیټ د قضیې په اکله د هغه ټول جنایتونه عفوه کړل

حقوقپوه لیکوال یوه بله مهمه پوښتنه راوړاندې کوي او ځواب یې ورکوي : کانگرس چې د عسکرو په شمول د ټولو امریکایانو استازولي کوي، شپږ کالونه وړاندې د ۲۰۰۲ زییز کال د اکتوبر په یولسمه نېټه یې ولسمشر بوش ته اجازه ورکړه چې د عراق په مقابل کې زور وکاروي. نو څنگه به یو څوک د ولسمشر سره د یوه جنایتکار په څېر معامله وکړي؟ ځواب یې داسې دی : د کانگرس له خوا اجازه د بوش د حقوقی د فاع لپاره اهمیت نلري ،په د وه دلیلونو : یو د لیل دا دی چې پخپله بوش د ولسمشر په حیث د ټولو وسله والو قواو ستر کوماند ان د ی ، نه کانگرس ، او وروستنئ پرېکړه شخصاً د ولسمشر صلاحیت دی ، نه د کانگرس .د وهم د لیل د ا دی چې د کانگرس « توافق بی اعتباره او مرد ود» دی څکه چې ولسمشر بوش د غه توافق قصداً د حقیقت په غلطو تصویرونو لاسته راوړی و

“...nullified by the deliberate misrepreentations he made to Congress in inducing it to give him consent.” (p. 92)

حقوقپوه بوگلیوسي کاري چې ټول واقعی جنایتونه په دوه توکمونو ولاړ وي :یو یې ممنوع عمل دی ، او د وهم یې جنایی قصد دی . قتل ممنوع عمل دی . د قتل لپاره په جنایی قصد کې بد نیت او خبا ثت( اِیوَل-مینینگ مایند ) شامل د ي ( وگورئ : یُونایټید سټیټس سوپریم کورټ ، موریسیټي ویرزوس یُونایټید سټیټس ) . د

ولسمشر بوش د جنگ په اکله د هغه « عمل » د ادی چي په عراق باندې د برید امر یې وکړ، بې له دې چې د عراق له خوا امریکي ته گرندی ( قریب الوقوع) خطر راروان وي . د دغه عمل له امله څه د پاسه څلور زره امریکایی عسکر د خاورو خوراک شول . د بوش د تعقیب په اړه لیکوال بوگلیوسي په دې اند دی چې د بوش جنگ په مخکني تکل ( قبلي قصد یا نیت = پري میډ یتیشن ) ولاړ دی ، ځکه چي د د غه جنگ لپاره بنایسته ډېرې میاشتي تیاری نیول شوی و ۹۵، مخ.

## مانینگ یاد اشت

حقوقپوه لیکوال د بوش د محاکمي لپاره ، د برتانیې د حکومت د یاداشت (ډ ونینگ ستریټ میمو) په کچه ډېر ډېر اهمیت مانینگ یاداشت ( مانینگ میمو) ته ورکړی دی : څه د پاسه پنځه نیم کالونه وړاندې، د زییز کال ۲۰۰۳ د جنوری په ۳۱ نېټه ولسمشر بوش ، د برتانیې لومړی وزیر تو نی بلیر، او شپږ نور غټ مشاوران ( د کانډي رایس او د توني بلیر د بهرنی سیاست د مشاور ډ یوېډ مانینگ په شمول ) په سپینه مانۍ کې د یو بل سره جرگه شول .له غونډې نه وروسته، برتانوي سیاسي مشاور ډ یوډ مانینگ یو پنځه مخیز یاداشت ولیکه چې د « فوقالعاده حساس» ( اِیکسټریملي زینزیټیو) مهر پرې لگیدلی و . په دغه یاد اشت کې د ذکر شوې غونډې لنډ یز خوندي شوی و . ډ یوېډ ماینینگ لیکي چې ولسمشر بوش او لومړي وزیر بلیر د واړو په دې کې شک لاره چې په عراق کې به د وگړیزې ویجاړتیا وسلې موجودې وي . هلته راغلي دي چې بوش ناراحت او غصه و چې د ملگرو ملتونو چارپو هانو ولې په عراق کې د ذکر شوو وسلو په مینډ لو بریالي نه شول .مانینگ کاږي چې بوش غوښتل د صد ام حسین سره په د رې لارو چلن( برخورد ) وکړي [ تو پرووک اَ کنفرنټیشن ] . دد غه برخورد یوه لاره داده چي « یُوټو اکتشافي الوتکه چي په غلط ډ ول» به پرې د ملگرو ملتونو رنگونه رسم شوي وي د عراق په فضا کي والوزوي

“ fly U2 ...falsely painted in United Nations colors.”

د دغې د سیسي موخه د ا وه چي که چیرې صد ام حسین په د غه اکشافي الوتکه ډ زې وکړې، نو د غه عمل به یې د ملگرو ملتونو له پریکړو نه سرغړونه وي او د جنگ لپاره به مشروعیت وي

## پای

حقوقپوه وینسینت بوگلیوسي چي یو وتلی متقاعد څارنوال او یو غښتلی امریکایي هېواد دوست دی ، د ولسمشر جورج ډبلیو بوش د تعقیب لپاره یې په شواهد و ډ که ډېرې ( د وسیه، فایل ) د کوټلي استدلال سره د امریکي څارنوالانو ته وړاندې کړې ده . که نوی یانې په بوش پسي ورپسي ولسمشر بوش ته د نوموړي د رسمي د ورې ( جنوري۲۰۰۱تر جنوري۲۰۰۹) د ټولو جنایتونو عفوه ونکړي، نرې غونډې امکان شته چي په امریکه کې ( د گور وید ال په وینا، « د هیرتیا په متحد و ایالتونو» کې ) کوم هیواد د وست څارنوال د وینسینت بوگلیوسي له قانوني معماری نه کار واخلي . د ولسمشر بوش او د هغه د ډ لې تعقیب به په نیول شوي افغانستان کي د د سیسي د شریکانو لپاره هم لږ و ډ یر عواقب ولري . پای : توزند اُوکس ، کلیفورنیا، ۸ سپتمبر ۲۰۰۸= ۱۸ وږی ۱۳۸۷

افغانان چي په خپله خاوره کي ډ اکټر زلمی خلیلزاد مینده کړي ، باید هغه سلوک ورسره وکړي چي د جنگ د جنایتکار سره ښایي . د خلیلزاد مفکورې ، سپارښتني، مشورې ، رسمي وظیفې، او د شمالي ټلوالي د جنگسالارانو سره د هغه نږدې اړیکې به په د ې کي مرستند وی گرځید لی وي چي امریکه په پښتنو پسي راوپار یږي، ا و په خوارکي افغانستان او په تېږه د ډ یورنډ د لعنتي «لیکي؟» په د واړو خواو کي په میشت پښتون ولس د ې د امریکي د غضب لمبې راتاو شي

**یاد ونه** : لکه چي وینئ، ما د دې لیکني لاسي نسخه یو کال وړاندې ( سپتمبر ۲۰۰۸، وږی ۱۳۸۷) بشپړه کړې وه . خو زما پښتو ټایپ نه و زده، او یو بل ته چي مې د خپرولو لپاره ولېږله ، تري تم شوه . اوس چي مې پښتو ټایپ نوکي زد ه کړی دی او د دې لیکني لاسي نسخه مې د خپلو لیکنو د ۲۰۰۸ زییز کال په ډ یرې (د وسیه ) کي مینده کړه ، خپروم یې . کلیفورنیا، ۳ سپتمبر ۲۰۰۹ = ۱۳وږی ۱۳۸۸